

# په افغانستان کې
# د پولې په اوږدو کې ولسي مرګ ژوبله:
# جنوري-مارچ ۲۰۲۶

مې ۲۰۲۶

په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دې راپور په اړه

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو څانګې دا سند د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲)[۱] پربکړه لیک له مخې د یوناما د ماموریت پر بنسټ چمتو کړی دی، تر څو «په ملي او محلي کچه ټولو ښکېلو لورو، مدني ټولنو او نړیوالو غیر دولتي بنسټونو سره د ټولو افغانانو د بشري حقونو د ساتنې او تحقق لپاره ښکېلتیا ولري» او «د ملکیانو وضعیت ته په کتو سره څارنه، راپور او دادخواهي ترسره کړي».

## کړنلاره

دا راپور په افغانستان کې د مرګ ژوبلې او پېښو په اړه یوازې هغه مالومات وړاندې کوي چې د یوناما له خوا د باور وړ ګڼل شوي دي. په راپورونو کې ولسي مرګ ژوبلې هغه مهال «تایید شوې» ګڼل کېږي چې د یوناما له خوا ټولو ارزول شوو مالوماتو پر بنسټ دا څرګنده شوې وي چې په «روښانه او قناعت بښونکي» ډول ملکي وګړي وژل شوي یا ټپيان شوي دي. د دې معیار د پوره کېدو لپاره، یوناما لږ تر لږه درې بېلابېلې او خپلواکې سرچينې غواړي؛ لکه قرباني، شاهد، روغتيايي کارکوونکي، ځايي چارواکي، د ټولنې مشران او یا نورې سرچينې. هر چېرې چې ممکن وي، مالومات د پېښو د قربانیانو او یا عيني شاهدانو له لومړنیو روایتونو او د پیښې په ځای کې د څېړنو له لارې تر لاسه کېږي.

په افغانستان کې د ټولو ملکي وګړو مرګ ژوبله چې یوناما مستند کړې او هغه موارد چې دې راپور کې لیکل شوي، په افغانستان کې *برحاله* چارواکو او د پاکستان حکومت سره شریک شوي دي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا یوناما ته د ورکړل شوي ماموریت سره سم، د یوناما د بشري حقونو څانګه یوازې د هغو پېښو څارنه کوي چې په افغانستان کې پيښې شوې وي. یوناما ته د هغو پيښو د څارنې ماموریت نه دئ ورکړل شوې چې کیدای شي پاکستان کې رامنځته شوي وي.

## سریزه

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۱۰ تر ۱۷مې نیټې پورې د شخړې د زیاتیدو په پایله کې په افغانستان کې له ۵۰۰ څخه زیات ولسي مرګ ژوبلې رامنځته شوې (۴۷ وژل شوي او ۴۵۶ ټپيان).[2] د اکتوبر په ۱۸ او ۱۹ نېټو په دوحه کې او د اکتوبر له ۲۵ تر ۳۰ نېټې په استانبول کې په ترسره شوو غونډو کې، افغانستان او پاکستان هوکړه وکړه چې اوربند اعلان کړي او وروسته يې جاري وساتي، چې په پایله کې یې د یو څه مودې لپاره د ملکي مرګ ژوبلو په شمېر کې کموالی راغی.

د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، یوناما په افغانستان کې له ۷۵۰ څخه زیات د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پېښې مستندې کړې،[۳] چې د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو او د پاکستان پوځي ځواکونو ترمنځ د پولې په اړدو کې د وسلوالو نښتو له امله رامنځته شوې وې. د دغو ملکي مرګ ژوبلو تر ټولو لویه برخه د فبرورۍ او مارچ په میاشتو کې د هوايي بریدونو له امله رامنځته شوې ده.

د فبرورۍ په ۲۱، د پاکستان پوځي ځواکونو له خوا په ننګرهار او پکتیکا ولایتونو کې هوايي بریدونه ترسره شول چې له امله يې ۱۳ ملکي وګړي ووژل شول او ۷ نور ټپيان شول، چې ماشومان هم پکې شامل وو.[٤] د فبرورۍ په ۲۲، د پاکستان د اطلاعاتو او خپرونو وزارت په خپل ایکس پاڼه کې یو بیان خپور کړ چې دغه هوايي بریدونه، په پاکستان کې د وروستیو ځانمرګو بریدونو وروسته، په افغانستان کې د پاکستاني طالبانو د تحریک او داعش په ځایونو،[٥] باندې ترسره شوي دي.[٦]

د فبرورۍ په ۲۶، *برحاله* چارواکو د دوی په وینا «باربار تمرد او سرکشیو په غبرګون» کې «د پاکستاني پوځیانو په مراکزو او نظامي تاسیساتو پراخ تهاجمي عملیاتو» پیل اعلان کړ.[۷]

[۱] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۸۱۸ (۲۰۲۶) پربکړه لیک له مخې تمدید شوی.

[2] یوناما، *د پولې په اوږدو کې د ملکي مرګ ژوبلې راپور: اکتوبر – دسمبر ۲۰۲۵*، ۸ فبروري ۲۰۲۶ (د ۲۰۲۶ کال د مې په ۱۱ تصحیح شوی). سرچینه: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/2026-05/PASHTO%20-%20UNAMA%20HRS%20paper%20on%20cross-border%20civilian%20casualties-updated.pdf.

[۳] په دې راپور کې د ملکي تلفاتو په اړه ټول مالومات، پرته له دې چې بل ډول یادونه شوې وي، په افغانستان کې ملکي مرګ ژوبلې ته اشاره کوي. د یوناما دنده یوازې د هغو ملکي مرګ ژوبلو څارنه او مستندکول دي چې په افغانستان کې پیښ شوي وي. له همدې امله، هر هغه ملکي مرګ ژوبله چې ښايي په همدې موده کې په پاکستان کې پېښ شوې وي، د دې راپور برخه نه جوړوي.

[٤] یوناما، *د ملکي تلفاتو په اړه اعلامیه، ۲۳ فبروري ۲۰۲۶* . سرچینه: https://unama.unmissions.org/en/press-releases/unama-statement-civilian-casualties .

[٥] د پاکستاني طالبانو تحریک (TTP)او داعش خراسان څانګه (ISIL-KP) دواړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د داعش (ISIL/Da'esh) او القاعده د بندیزونو په لېست کې شامل دي.

[٦] د پاکستان د اطلاعاتو او خپرونو وزارت د ایکس (X) پاڼه (x.com/MoIB_Official/status/2025316690855354804).

[۷] د *برحاله* چارواکو د ویاند د ایکس (X) پاڼه (https://x.com/Zabehulah_M33/status/2027058330103955907?s=20).

د فبرورۍ په ۲۶، پاکستان په افغانستان کې د ترهګرو او ترهګریزو سازمانونو پر ضد د *غضب للحق* (په حق غوسه) عملیاتو د پیل اعلان وکړ،[۸] او د فبرورۍ په ۲۷مه، سهار مهال یې په کابل او پکتیکا کې هوايي بریدونه ترسره کړل چې له امله یې ۱۴ ملکي وګړي ووژل شول او ۱۴ نور ټپيان شول.

د فبرورۍ او مارچ په اوږدو کې د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو او د پاکستان پوځي ځواکونو ترمنځ د پولې په اوږدو کې جګړې دوام درلود، د پاکستان پوځي ځواکونو د افغانستان د سرحدي سیمو او همدارنګه د پلازمېنې کابل په ګډون ځینو سیمو کې هوايي بریدونه ترسره کړل چې له امله یې ملکي مرګ ژوبله رامنځته شوه. د مارچ په ۱۶، د پاکستان پوځي ځواکونو په کابل کې د امید د روږدو د درملنې پر مرکز هوايي بریدونه ترسره کړل، دا په کابل کې په نشه‌يي توکو باندې د روږدو کسانو لپاره یو روغتیايي مرکز و. په دې برید کې د دغه روغتیايي مرکز سلګونه ناروغان ووژل او ټپيان شول.

د مارچ په ۱۸، افغانستان او پاکستان اعلان وکړ چې د کوچني اختر  په مناسبت یې د «عملیاتو موقت اوربند» وکړ، او دا اوربند به د مارچ د ۱۹/۱۸ نېټې له نیمې شپې پیل او د مارچ د ۲۴/۲۳ نېټې تر نیمې شپې پورې به دوام وکړي.[۹] د دې موقت اوربند پر مهال، یوناما په کونړ ولایت کې د پاکستان پوځي ځواکونو له خوا، د پولې په اوږدو کې، د ډزو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله ثبت کړې. د موقت اوربند له پای ته رسېدو وروسته هم په کونړ ولایت کې د پاکستان پوځي ځواکونو له خوا د پولې په اوږدو کې ډزو دوام درلود، چې له امله یې ملکي مرګ ژوبلې رامنځته شوي.

د اپرېل په ۱، د افغانستان د *برحاله* چارواکو او د پاکستان د چارواکو ترمنځ خبرې اترې د چین په کوربتوب په ارومچي کې پیل شوې.

## د ولسي مرګ ژوبلې تفصیل


د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ نېټې پورې، یوناما د پولې په اوږدو کې د افغانستان د *برحاله* امنيتي ځواکونو او د پاکستان پوځي ځواکونو ترمنځ وسله‌والو نښتو له امله د ملکي وګړو، ۳۷۲ د وژل کېدو او ۳۹۷ د ټپي کېدو، پېښې مستند کړې دي.
د دغو ملکي تلفاتو ډېرى برخه وروسته له هغې رامنځته شوه چې پاکستان د فبرورۍ په ۲۶ د *غضب للحق* عملیاتو د پیل اعلان وکړ. له نیمايي څخه زیاته مرګ ژوبله د مارچ په ۱۶ د هغو هوايي بریدونو له امله وه چې د پاکستان پوځي ځواکونو له خوا په کابل کې  د امید د روږدو د درملنې پر روغتون ترسره شول (د نورو جزئیاتو لپاره «پر امید روغتون هوايي بریدونه» وګورئ)

### جنسیت

**په مرګ ژوبله کې**  ۷۲ ښځې، ۵۵۴ نارینه، ۴۸ نجونې او ۹۵ هلکان شامل وو.


د مارچ تر ۱۶ پورې، چې د امید د روږدو د درملنې پر مرکز هوايي برید ترسره شو، په ثبت شوو ولسي مرګ ژوبلو کې له نیمايي څخه زیات یې ښځې او ماشومان وو. خو دا چې د امید روغتون یوازې نارینه ناروغان لرل، د دې پېښې وروسته دا وېش بدل شو.

[۸] ډان ورځپاڼه، د *ISPR عمومي رییس افغان طالبانو رژیم ته ویلي چې د ترهګرو ډلو او پاکستان ترمنځ یو انتخاب وکړي، ۲۷ فبروري ۲۰۲۶* . سرچینه: (https://www.dawn.com/news/1976171).
[۹] د پاکستان د اطلاعاتو او خپرونو د فدرالي وزیر د ایکس (X) پاڼه (https://x.com/i/status/2034269962894823924)  او د *برحاله* چارواکو د مرستیال ویاند د ایکس (X) پاڼه (https://x.com/FitratHamd/status/2034300688478425386?s=20).




## ځای

هغه ولایتونه چې تر ټولو زیات ولسي مرګ ژوبلې پکې ثبت شوي، دا دي: کابل (٪۵۵)، کونړ (٪۱۳) او پکتیکا(٪۱۱ ).




## د ولسي مرګ ژوبلو منسوبول

یوناما ټولټال ۹۵ پېښې مستند کړې دي، چې له هغو څخه ۹۴ پېښې د پاکستان امنیتي ځواکونو او یوه پېښه د افغانستان *برحاله* امنیتي ځواکونو ته منسوب شوې ده.

## تکتیکونه

د ولسي مرګ ژوبلې تر ټولو مهم لامل هوايي بریدونه (۶۴٪) وو  په داسې حال کې چې پاتې (۳۵٪) پېښې د پولې په اوږدو کې غیر مستقیمو ډزو (هاوان، توپخانې) له امله رامنځته شوي، او یوه د هدفي وژنې پېښه وه.

## امید د روږدو د درملنې روغتون

د ۲۰۲۶ کال د مارچ په ۱۶، شاوخوا د ماسخوتن په ۸:۵۰ بجو، د کابل ښار د ۹ حوزې اړوند د هودخېلو په سیمه کې، د پاکستان پوځي ځواکونو د امید د روږدو د درملنې په مرکز، په نشه‌یي توکو د روږدو کسانو د درملنې یو مرکز، باندې هوايي بریدونه وکړل.

د برید نه وروسته، یوناما د امید روغتون څخه لیدنه وکړه او د هوايي بریدونو اغېزې یې له نږدې وکتلې. یوناما همدارنګه، د کابل په روغتونونو کې د هوايي بریدونو له قربانیانو، هغه ژوندي پاتې شوي کسان چې نورو مرکزونو ته لېږدول شوي وو، د هغو کورنیو غړي چې خپل خپلوان یې وژل شوي یا  ورک وو، روغتیايي کارکوونکي—په ځانګړې ډول لومړني مرستندویان—چې د وژل شوو پالنه او ټپیانو درملنه یې کړې وه، او د کابل د عدلي طب ریاست کارکوونکو سره یې ولیدل.

د ساحې څخه د یوناما د کتنې او د عیني شاهدانو سره د خبرو پر بنسټ، پر دغه مرکز درې هوايي بریدونه وشول چې ودانیو ته یې پراخ زیان واړاوه، لږ تر لږه ۲۶۹ کسان (ټول نارینه) یې ووژل او ۱۲۲ نور (د یوې ښځې په ګډون) یې ټپیان کړل. د وژل شویو او ټپیانو ډېری برخه د روغتون ناروغان وو.

هوايي بریدونه د ماسخوتن دتراویح له لمانځه وروسته هغه مهال وشول، کله چې یو شمېر ناروغان له جومات څخه وتل.

د یوناما له خوا د راټولو شوو مالوماتو او د ساحې څخه د کتنې له مخې، لومړي هوايي برید د امید روغتون جومات او د خوب ځایونه باندې شوی. دوهم برید د خوړو د زېرمتون پر ساحه، چې له کانتینرونو جوړه شوې وه، او همدارنګه پر خوب ځایونو ترسره شوی. درېیم برید د روغتون د حرفوي زده‌کړو پر ساحه کې پر ودانیو لګېدلی چې ډېری یې له لرګیو جوړې وې او له امله یې لوی اور لګېدلی و.

د وژل شویو او ټپیانو ته د زیان اصلي لامل د چاودنې د ټوټو له امله ټپونه او سوځېدنې وې.

په داسې حال کې چې یوناما په خپلواکه توګه د دغو هوايي بریدونو په پایله کې لږ تر لږه د ۲۶۹ ملکي وګړو وژل کېدل او د ۱۲۲ کسانو ټپي کېدل تائید کړي دي، خو اصلي شمېر ښايي تر دې ډېر لوړ وي. د برید پر مهال په روغتون کې د موجودو ناروغانو کره شمېر مالوم نه دی، او د روغتون د کارکوونکو د راپور له مخې د ناروغانو ثبت شوي اسناد هم د هوايي بریدونو له امله له منځه تللي دي. سربېره پر دې، د ټپونو د ماهیت یا دا چې ځینې جسدونه ټوټه ټوټه شوي وو، د ډېرو مړو جسدونه نه پېژندل کېدل. یوناما د هغو قربانیانو انځورونه هم لیدلي چې د سختو سوځېدنو له امله په بشپړ ډول نه پېژندل کېدل. یوناما له هغو کورنیو سره هم خبرې کړې چې د خپلو عزیزانو په لټه کې دي، خو د ناروغانو د کره او بشپړو مالوماتو د نشتون له امله د ورکو ناروغانو بشپړ شمېر تر اوسه نه دی تثبیت شوی. *برحاله* چارواکو یوناما ته ویلي چې دوی د ورکو کسانو د شمېر د مالومولو لپاره کار کوي، خو تر اوسه پورې د ورکو کسانو شمېر نه دی شریک شوی.

د راپورونو له مخې، د ځینو وژل شوو کسانو خپلوانو د خپلو عزیزانو مړي مستقیم له روغتون څخه اخیستي او خاورو ته یې سپارلي، په داسې حال کې چې نور مړي—یا خو مستقیم د برید له ځایه او یا هم له روغتون ته له وړلو وروسته—د عدلي طب ریاست ته انتقال شوي وو، څو د عدلي-طبي پروسو له لارې وځېړل شي او د کورنیو لپاره د خپلو خپلوانو د موندلو فرصت برابر شي. یوناما ته ویل شوي چې د عدلي طب ریاست د ټولو مړو د ساتلو ظرفیت نه درلود، له همدې امله ځینې مړي نورو ادارو ته ولېږدول شول، چې پکې *برحاله* د دفاع وزارت ۴۰۰ بستریز روغتون، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت ۳۰۰ بستریز روغتون او *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست روغتون شامل وو.

د دې لپاره چې خلکو ته د هوايي بریدونو له امله د کورنۍ وژل شوو غړو د موندلو فرصت برابر شي، د عدلي طب ریاست یو مرکز جوړ کړ چې پکې د ناپېژندل شوو مړو انځورونه په پرده ښودل کېدل. د کورنیو غړو کولای شول دغه انځورونه وګوري او هڅه وکړي خپل خپلوان وپېژني، او که به یې وپېژندل، نو مړي به یې له ځان سره وړل او خاورو ته به یې سپارل. *برحاله* چارواکو د مارچ په ۱۸ او ۲۶ مه هغو مړو لپاره دوه ډله‌ییزې جنازې ترسره کړې چې پېژندل شوي نه وو.[10] یوناما ته ویل شوي چې په لومړۍ ډله‌ییزه جنازه کې هغه مړي

[10] باختر نیوز، *د امید روغتون د برید د شهیدانو لپاره دوهمه ډله‌ییزه جنازه ترسره شوه*، ۲۶ مارچ ۲۰۲۶. سرچینه: https://www.bakhtarnews.af/en/Second-Mass-Funeral-Held-for-Martyrs-of-Omid-Hospital-Attack

ښخ شول چې ځانونه یې ټوټې ټوټې شوی وو، او پېژندل یې ممکن نه وو، په داسې حال کې چې په دوهمه جنازه کې هغه مړي ښخ شول چې د کورنۍ له خوا یې نه وو پیژندل شوي یا  یې د پېژندلو ادعا نه وه شوې. د *برحاله* چارواکو په وینا، په هره ډلهییزه جنازه کې شاوخوا ۵۰ مړي خښ شوي دي.

*برحاله* چارواکو ویلي چې په دغو هوایي بریدونو کې د ۴۱۱ کسانو څخه ډیر وژل شوي او د ۲۶۱ کسانو څخه ډیر ټپیان شوي،[11] او ۴۹۱ نور روغ پاتې شوي دي.[12]

په افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما ته ویلي چې: «د مارچ د ۱۶مې شپې عملیات یوازې د ترهګرو او پوځي زیربناوو پر ضد ترسره شول. هدفونه د ډرون زېرمتونونه، د تخنیکي ملاتړ مرکزونه او د وسلو زېرمتونونه وو، چې د افغان طالبانو د رژیم له خوا د بېګناه پاکستاني ملکي وګړو پر ضد د بریدونو لپاره کارول کېدل. دا بریدونه کره، هدفمند او مسلکي وو. هېڅ روغتون، د روږدو د درملنې مرکز، یا ملکي تاسیسات نه دي په نښه شوي».[13]



د امید د روږدو د درملنې مرکز، د حرفوي زده کړو ویجاړه شوې ساحه، ۲۴ مارچ ۲۰۲۶



د امید د روږدو د درملنې مرکز، د ویجاړ شوي ځای انځور، ۲۴ مارچ ۲۰۲۶

[11] الف ضمیمه وګورئ: د *برحاله* بهرنیو چارو وزارت له لوري وړاندې شوي نظریات.
[12] *برحاله* د عامه روغتیا وزارت د ویاند ایکس (X) پاڼه: https://x.com/SharafatAmar/status/2033888761462112697?s=20.
[13] په افغانستان کې د پاکستان سفارت بشپړ ځواب لپاره د دې راپور سره مل ب ضمیمه وګورئ.



د امید د روږدو د درملنې مرکز، د خوبخونو ورانې شوې ساحې، ۲۴ مارچ ۲۰۲۶

## پر ولسي وګړو يې اغېز

يوناما له يو شمېر کسانو سره خبرې کړې چې د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ له ۱ څخه تر مارچ ۳۱ پورې د پولې په اوږدو کې د وسله‌والو نښتو په پایله کې یې د کورنۍ غړي وژل شوي او ټپیان شوي، هغوی د خپل ورپېښ شوي غم او تروما په اړه خبرې وکړې. يو مرکه شوی کس د فبرورۍ په ۲۷، پکتيکا ولايت، برمل ولسوالۍ، د ابراهیم‌خېل په کلي کې، سهار مهال پر کور يې د هوايي برید له امله د خپلې کورنۍ ۱۴ غړي له لاسه ورکړل:

*«... په داسې حال کې چې ښځو د [پشلمي لپاره] خواړه چمتو کول او مور، غوښتل ډوډۍ خوړل پيل کړو، د کلي يو اوسېدونکي ماته زنګ وواهه او ويې ویل چې بيا يې د الوتکې غږ اورېدلی او بايد ځان ګوښه کړو. زما د کور لاندې يو تهکو وو، مور، ټول هلته ښکته شو، په دې تمه چې الوتکه به زر لاړه شي. خو څو دقيقې وروسته له هغه چې مور، ښکته لاړو، پر مور، بم وغورځول شو. د پشلمي په وخت، په دغه برید کې زما د کورنۍ ۱۴ غړي ووژل شول او ۵ نور ټپيان شول. د کورنۍ د غړو جسدونه ټوټې ټوټې شوي وو؛ مور، يې پاتې شونې په بوجيو کې راټول کړل تر څو هېڅ برخه پاتې نه شي. سهار وختي مو قبرونه وکيندل او د جنازې له لمانځه وروسته مو هغوی خاورو ته وسپارل... اوس په کلي کې هېڅوک نه دي پاتې. زه هم هلته پاتې کېدای نه شم، ځکه چې زما کور د غم ځای ګرځېدلی دی. درې ورځې وړاندې ټوله کورنۍ راسره وه؛ نن هېڅوک نه دي پاتې. تېر کال په همدې کلي کې زلزله وشوه او زما د کورنۍ ۱۳ غړي يکې ووژل شول. اوس بيا ۱۴ نور هم ووژل شول. زما ټوله کورنۍ له منځه ولاړه. زه ډېر مات شوی يم.»*[14]

يو بل مرکه شوی کس، د مارچ په ۸، د خوست ولايت د تېرازی ولسوالۍ کې د خپل کلي په جومات کې د تراويح لمونځ ادا کاوه، چې د چاودنو غږونه يې واورېدل:

*«... د چاودنو له اورېدو وروسته، ما د کلي خلکو ته وويل چې بايد خپلو کورونو ته ستانه شو تر څو وضعيت وګورو او له خپلو کورنيو سره همکاري وکړو.*

*په هغه وخت کې زما مېرمن هڅه کوله چې زمور، لور له کوره د ختې جوړې شوې امن خونې ته د خونديتوب لپاره يوسي... د وتلو پر مهال، د هغې کالي د اغزي لرونکو ونو (اکاسيا) په اغزو کې ونښتل. کله چې هغې هڅه کوله خپل کميس خلاص کړي، په ناڅاپي ډول يې زمور، د لور لاس پرېښود. په هماغه شېبه کې نږدې يو هاوان ولګېد. چې له امله، زما څلور کلنه لور ووژل شوه او زما مېرمن ټپي شوه.»*[15]

يوناما همدارنګه له هغو کسانو سره هم مرکې کړې چې په جګړه کې ټپيان شوي وو، د پرچو/ټوټو له امله ټپونه تر ټولو ډېر راپور شوي دي.

پولې ته نږدې سيمو کې روانه جګړه د خلکو د پراخ بې‌ځایه کېدو لامل ګرځېدلې ده. د اپرېل تر لومړۍ نېټې پورې، څه باندې ۹۴۰۰۰ کسان (شاوخوا ۱۳۴۰۰ کورنۍ) د بېځایه شويو په توګه ارزول شوي دي.[16] سربېره پر دې، ګڼ شمېر ملکي کورونه او بنسټونه (لکه جوماتونه، ښوونځي او ښاروي) او همدارنګه خصوصي سوداګرۍ زيانمنې شوې يا له منځه تللې دي.

يوناما همدارنګه د *برحاله* امنيتي ځواکونو له خوا د پوځي موخو لپاره د يو ښوونځي او يو روغتون کارول مستند کړي دي.

## په نورستان ولايت کې د يوه نادولتي سازمان د کارکوونکې وژل کېدل[17]

د مارچ په ۱۹، د نورستان ولايت ،کامديش ولسوالۍ کې، د يوه کلينيک کارکونکې هغه مهال په ډزو ووژل شوه چې له خپلې کورنۍ سره کونړ ولايت ته په سفر وه. دغې کورنۍ د فبرورۍ له ۲۶ راهيسې، د جګړو د پيل له امله، نه وو توانيدلي چې خپل کور ته لاړ شي، د راپورونو له مخې د پاکستان پوځي ځواکونو د نورستان د کامديش ولسوالۍ او د کونړ د ناړۍ ولسوالۍ ترمنځ پر سړک تګ راتګ کوونکو موټرو باندې ډزې کولې.

د اختر په مناسبت د عملیاتو د بنديدو له اعلان وروسته، دې کورنۍ له ځايي *برحاله* چارواکو او نورو کسانو څخه ډاډ ترلاسه کړ چې اوربند شوی او هغوی ته وويل شول چې کولای شي د مارچ په ۱۹ خپل کور ته سفر وکړي.

د مارچ په ۱۹ شاوخوا د سهار په ۵ بجو، دغه ښځه له خپل مېړه او دريو ماشومانو سره د يو کرايي ټکسي په وسيله د کور پر لور روانه شوه، څو د نورستان د کامديش ولسوالۍ څخه د کونړ ولايت د ناړۍ ولسوالۍ د بريکوټ سيمې ته لاړ شي. د لارې په اوږدو کې يې له ځايي اوسېدونکو څخه وپوښتل چې ايا کوم ډز يا بريد شوی که نه؛ ټولو ورته وويل چې هېڅ نه دي شوي او لاره خوندي ده.

[14] په پکتيکا ولايت کې د هوايي برید د قربانيانو د کورنۍ غړی.
[15] په خوست ولايت کې د بې هدفه ډزو د قربانيانو د کورنۍ غړی.
[16] د ملګرو ملتونو د بشري همغږۍ د مرستې دفتر، *افغانستان: د وضعيت په اړه ۳ شميره تازه مالومات، په بشري مرستو د افغانستان او پاکستان تر منځ پوځي شخړو اغيزې*، ۵ اپريل ۲۰۲۶. سرچينه: https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-situation-update-3-humanitarian-impact-afghanistan-pakistan-military-escalation-5-april-2026.
[17] د پيښې په اړه يوناما تفصيلات د هغو خلکو څخه ترلاسه کړي چې د واقعيت په اړه يې مالومات درلودل.

کله چې دوی د کامدیش ولسوالۍ د باغیچې سیمې ته ورسېدل، د پاکستان پوځي ځواکونو پر دوی د سپکو وسلو، هاوان او توپ ډزې پیل کړې. دوی پرېکړه وکړه چې له موټر څخه ښکته شي او د سیند پر غاړه پلي لاړ شي تر څو له ډزو څخه ځان وژغوري. هغوی پرېکړه وکړه چې له موټر څخه ښکته شي او د سیند په غاړه لاړ شي، تر څو له ډزو وتښتي. هغوي هڅه وکړه چې له سیند څخه واوړي تر څو امن سیمې ته لاړ شي. د سیند د اوښتو پر مهال، د نادولتي سازمان کارکوونکي په ښي اړخ په ډزو وویشتل شوه، نور يې د تګ توان له لاسه ورکړ او په اوبو کې ولوېده او ډوبه شوه؛ له هغې سره يې درې کلن زوی هم ډوب شو.

ځايي اوسېدونکو د ډزو غږ واورېد او د مرستې لپاره ورسېدل. هغوی د ښځې او د هغې د زوی مړي له سیند څخه راوایستل او د هغې مېړه او دوه ژوندي پاتې شوي ماشومان يې، د وژل شوو د مړو سره یو ځای، نږدې کور ته ولېږدول. ځايي قومي مشرانو د پاکستان پوځي ځواکونو د پوستې ته نږدې له مشرانو سره د ټیلیفون له لارې اړیکه ونیوله او غوښتنه يې وکړه چې یو ټکسي ته اجازه ورکړي څو مړي کونړ ته ولېږدوي، خو د پاکستان پوځي ځواکونو دا غوښتنه رد کړه. بله ورځ سهار (د مارچ ۲۰)، مړي د بدیلې لارې، په پلي توګه ولېږدول شول. د یوې ورځې مزل وروسته، کورنۍ—د نادولتي سازمان د کارکوونکي او د هغې د ماشوم له مړو سره—د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ د بریکوټ سیمې ته ورسېدل. دغه ښځه او د هغې زوی بله ورځ (د مارچ ۲۱) د کونړ ولایت د اسعدآباد ښار د کیراله په کلي کې خاورو ته وسپارل شول.

## قانوني چوکاټ

د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې، د شخړو ښکېلې خواوې مکلفې دي چې - په ګډون د پوځي عملیاتو د پلان کولو پر مهال - لاندې اساسي اصول مراعت کړي:

- **توپیر:** ملکي وګړي، هم د یوې ډلې په توګه او هم هر یو په انفرادي ډول، باید د برید هدف ونه ګرځول شي، او د شخړې ښکېلې خواوې باید تل د ملکي وګړو او جنګیالو ترمنځ توپیر وکړي.[۱۸] دا اصل ایجابوي چې د شخړې ښکېلې خواوې له یوې خوا د ملکي وګړو او ملکي شیانو، او له بلې خوا د جنګیالو او پوځي موخو ترمنځ روښانه توپیر وکړي. بریدونه یوازې د پوځي موخو پر ضد کېدای شي. د دې لپاره چې یو شی یا ودانۍ پوځي هدف وبلل شي، باید دوه ګډ شرطونه پوره کړي: (۱) د خپل «ماهیت، موقعیت، هدف یا کاروني له مخې یو پوځي عمل ته په مؤثر ډول وکارول شي» او (۲) د هغه شي «ټول یا جزوي ویجاړېدل، نیول یا بې‌اغېزې کول» د هغه وخت د حالاتو له مخې یو څرګند او مشخص پوځي برلاسی رامنځته کړي.[19]
- **تناسب:** «هغه برید منع کوي چې د ملکي وګړو د ژوند ضایع کېدل، د هغوی ټپي کېدل، د ملکي شیانو زیانمنېدل، یا د دې ټولو چارو سبب شي، په هغه صورت کې چې دغه زیانونه د تمه کېدونکي روښانه او مستقیم پوځي برلاسۍ په پرتله ډېر زیات وي.[20]
- **په برید کې احتیاط**: «[...] ملکي وګړي باید په عمومي ډول د پوځي عملیاتو له امله رامنځته کېدونکو خطرونو پر وړاندې خوندیتوب ولري.»[۲۱] «د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال باید تل پوره پاملرنه وشي څو ملکي وګړي، او ملکي شیان وساتل شي»،[۲۲] او ټول ممکن احتیاطي تدابیر باید ونیول شي، «تر څو د ملکي وګړو د ژوند ناڅاپي ضایع کېدل، د هغوی ټپي کېدل او د ملکي شیانو زیانمنېدل لږ تر لږه کم او یا يې مخنیوی وشي.[23]

**پر روغتیايي مرکزونو بریدونه:** د ملکي وګړو لپاره د روغتیايي خدمتونو او اساسي مرستو د برابرونکو په توګه، روغتیاپالان او مرکزونه يې په څرګند ډول د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې د ځانګړې ساتنې څخه برخمن دي.[۲۴] طبي کارکوونکو، واحدونو او ترانسپورتي وسایلو ته باید درناوی او ساتنه يې وشي، او کارکوونکو ته باید د دندو د ترسره کولو لپاره ټولې ممکنې مرستې برابرې شي.[۲۵] نړیوال بشردوستانه قانون همدارنګه هغه تجهیزات او توکي ساتي چې د طبي موخو لپاره کارول کېږي.[۲۶] هغه ښکېلې

[۱۸] د ۱۹۴۹ کال د اګست ۱۲مې د جنیوا کنوانسیونونو الحاقي پروتوکول چې د نړیوالو وسله‌والو شخړو د قربانیانو د ساتنې په اړه دی (الحاقي پروتوکول ۱)، د ۱۹۷۷ کال د جون ۸مه، ۴۸ ماده. همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د دودیز نړیوال بشري حقونو څېړنه، ۱ اصل.

[19] الحاقي پروتوکول ۱، ۴۸ ماده. همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د دودیز نړیوال بشردوستانه حقونو څېړنه، ۱ اصل.

[20] الحاقي پروتوکول ۱، ماده ۵۱(۵)(ب). همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د دودیز نړیوال بشردوستانه حقونو څېړنه، ۱۴ اصل.

[۲۱] الحاقي پروتوکو ۱، ماده ۵۱. همدارنګه وګورئ: د سره صلیب نړیوالې کمېټې د دودیز نړیوال بشردوستانه حقونو څېړنه، ۱۵–۲۱ اصل.

[۲۲] الحاقي پروتوکول ۱، ماده ۵۷(۱).

[23] الحاقي پروتوکول ۱، ماده ۵۷(۲)(الف).(ii).

[۲۴] روغتیايي مرکزونه یا «واحدونه»، کلینیکونو او درملتونونو ته شاملیږي؛ ترانسپورت په روښانه ډول د ناروغ د انتقال لپاره کارول کیږي،. او ټپیان خوندي دي. لومړی الحاقي پروتوکول وګورئ، ۱۲ ماده؛ د سره صلیب نړیوالې کمیټې د دودیز نړیوال بشردوستانه حقونو څېړنه، ۲۸ او ۲۹ اصل.

[۲۵] الحاقي پروتوکول ۱، ۱۲، ۱۵، او ۲۱ ماده؛ د سره صلیب نړیوالې کمیټې د دودیز نړیوال بشردوستانه حقونو څېړنه، ۲۵، ۲۸ او ۲۹ اصل.

[۲۶] الحاقي پروتوکول ۱، ۱۲ ماده؛ د سره صلیب نړیوالې کمیټې د دودیز نړیوال بشردوستانه حقونو څېړنه، ۲۵ او ۲۸ اصل.

خواوې چې روغتیایي تاسیسات د پوځي موخو لپاره کاروي، لکه د هغو دننه پناه اخیستل، کېدای شي دغه تاسیسات د برید پر وړاندې له خپل خوندي حالت څخه محروم کړي او له خطر سره یې مخ کړي.[۲۷] که یو روغتون د پوځي فعالیتونو لپاره وکارول شي، د هغه خوندیتوب یوازې هغه مهال پای ته رسېږي چې مناسب خبرداری ورکړل شي، د معقول وخت لپاره مهلت ورکړل شي، خو خبرداري ته پاملرنه ونشي.

## سپارښتنې

د پاکستان حکومت ته:

- د احتیاط، توپیر او تناسب اصولو په ګډون، د نړیوال بشردوستانه قانون سره سم د مکلفیتونو رعایت یقیني کړي، ترڅو ملکي وګړي له زیان څخه خوندي پاتې شي.
- د هدف د تثبیت پروسې او له هوايي بریدونو مخکې د احتیاطي تدابیرو هر اړخیزه بیاکتنه ترسره شي، تر څو تشې وپېژندل شي او وړاندیز شوي بدلونونه پلي شي.
- د ملکي وګړو د سیمو څخه او د هغوي مېشت ځایونو ته د غیرمستقیمو وسلو (هاوانونه، راکټونه او لاسي بمونه) کارول او ډزې بندې کړئ.
- د بشري حقونو د سرغړونو او د نړیوال بشردوستانه قانون د نقض ټولو تورونو پلټنه وکړئ، څو حساب‌ورکونه یقیني شي.

د افغانستان *برحاله* چارواکو ته:

- په هغو سیمو کې چې ملکیان میشت دي، د هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو کارول ودروئ او د ملکي ملکیتونو په شاوخوا کې پوستو جوړولو یا جګړې ترسره کولو څخه ډډه وکړئ.
- د بشري حقونو د سرغړونو او د نړیوال بشردوستانه قانون د نقض ټولو تورونو پلټنه وکړئ او پایلې یې په علني توګه خپرې کړئ.
- د پېښې وروسته د ملکي وګړو اړتیاوې پوره کړئ، لکه طبي پاملرنه، د ویجاړو شوو کورونو او سوداګریزو ځایونو بیارغونه، او مالي ملاتړ.
- د هغو کسانو لپاره یو میکانیزم رامنځته کړئ چې خپل خپلوان یې د **امید د نشه یي توکو د بیارغونې روغتون** څخه لا هم ورک دي، ترڅو وکولای شي د خپلو کورنیو د غړو د برخلیک په اړه له برحاله چارواکو څخه معلومات ترلاسه کړي. د ورکو شوو کسانو په اړه د مالوماتو د پیدا کولو او د هغوي د ځاي په اړه د هر ډول مالوماتو راټولولو لپاره باید ګامونه پورته شي .
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ملکي وګړي د جګړو او نښتو پر مهال د امنیتي وضعیت او د مرستو د شتون او موقعیت په اړه پر وخت معلوماتو ته لاسرسی ولري، ترڅو وکولای شي د خپل ځان د خوندیتوب لپاره لازم اقدامات وکړي، او په ځانګړې توګه باید ډاډ ترلاسه شي چې ښځې او نجونې هم دغو معلوماتو ته په مساوي ډول لاسرسی ولري.

[۲۷] الحاقي پروتوکول ۱، ۱۲ ماده؛ د سره صلیب نړیوالې کمېټې د دودیز نړیوال بشردوستانه حقونو څېړنه، ۲۸ اصل.

## الف ضمیمه: *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت لخوا وړاندې شوې څرګندونې

نېټه: ۱۵ / ۱۱ / ۱۴
موضوع: د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا د فرضي پولې په اوږدو کې د ملکي تلفاتو مستند شوي راپور په اړه څرګندونې:

په وروستیو میاشتو کې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د ملکي وګړو پر وړاندې د تاوتریخوالي دوام د ژورې اندېښنې وړ ګرځېدلی دی. د پاکستان له خاو رې ترسره شوي پوځي بریدونه په پراخه کچه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې، عامه تاسیساتو د ویجاړۍ او د خلکو د اساسي حقونو د نقض سبب شوي دي.

د موجودو شمېرو له مخې، له ۷۶۰ څخه زیات ملکي وګړي شهیدان شوي او سلګونه نور ټپیان دي. په ځانګړې توګه، پر یوه روغتیايي مرکز ترسره شوی برید د دې وضعیت تر ټولو درنه پېښه ده، چې له ۴۱۱ څخه زیات ملکي وګړو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړی او له ۲۶۱ څخه زیات نور ټپیان شوي دي. دا ډول بریدونه چې ملکي اهداف په نښه کوي، د نړیوال بشري قانون له اساسي اصولو سره په ښکاره ټکر کې دي او د منلو وړ نه دي.

د ملکي وګړو، روغتیايي مرکزونو، تعلیمي بنسټونو او استوګنیزو سیمو خوندیتوب یو اساسي اصل دی چې باید د هر ډول نظامي اقدام پر مهال په جدي توګه مراعات شي. د دغو اصولو نه مراعات کول نه یوازې بشري زیانونه زیاتوي، بلکې د سیمې پر ثبات او باور هم منفي اغېز کوي.
د افغانستان اسلامي امارت په دې ا ړه خپله ژوره اندېښنه څرګندوي او د پاکستان لخوا د ملکي وګړو پر و ړاندې هر ډول تاوتریخوالی په کلکه غندي. اسلامي امارت ټینګار کوي چې د هېواد حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو خوندیتوب اساسي ار زښتونه دي، او ټول ا ړخونه باید په عملي ډول ورته درناوی وکړي.

په همدې اساس، له نړیوالو بنسټونو او ا ړوندو لورو غوښتنه کېږي چې د دغو پېښو په اړه خپلواکه او شفافه څېړنه ترسره کړي، د نړیوالو قوانینو د رعایت لپاره عملي ګامونه پورته کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د ملکي وګړو پر و ړاندې دا ډول پېښې بیا تکرار نه شي.

پای

## ب ضمیمه: د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت لخوا وړاندې شوې څرګندونې

**په کابل کې د پاکستان سفارت**

۱. پاکستان د افغان طالبانو د رژیم له لوري د دوامداره بېدلیله تهاجم او د پاکستاني طالبانو تحریک او د بلوچستان د ازادۍ غورځنګ له خوا د پولې هاخوا د بریدونو د زیاتوالي په غبرګون کې د دقیقو هوايي بریدونو سخت ګام پورته کړ.
۲. د روان کال له پیل راهیسي، ۱۳۰ ملکیان او امنیتي ځواکونه شهیدان شوي دي. په ۲۰۲۵ کال کې، ۱۲۰۰ پاکستانیان شهیدان شوي چې پکې ۴۰۰ ملکیان شامل دي. دا ریښتیني خلک او کورنۍ دي، نه جوړې شوي شمېرې.
۳. د باوري استخباراتي مالوماتو پر بنسټ، د مارچ د ۱۶ شپې عملیات یوازې د ترهګرو او پوځي زیربناوو پر ضد ترسره شول. هدفونه د ډرون زېرمتونونه، د تخنیکي ملاتړ مرکزونه او د وسلو زېرمتونونه وو، چې د افغان طالبانو رژیم له خوا د بې ګناه پاکستانیانو پر ضد کارېدل.
۴. بریدونه دقیق، سنجول شوي او مسلکي وو. هېڅ روغتون، د روږدو د درملنې مرکز یا ملکي تاسیسات هدف نه دي ګرځول شوي.
۵. د معمول طرزالعمل له مخې، د مالوماتو وزارت د عملیاتو لږ وروسته د ټولو شپږو بریدونو ویډیویي شواهد خپاره کړل، چې د هدفونو ماهیت په واضح ډول ښیي.
۶. دوهمه چاودنه چې ښکاره په ویډیو کې ښکاري دا ثابتوي چې د وسلو زېرمتونونه په دقیقه توګه ویشتل شوي دي.
۷. د وسلو د ستراتېژیکو تاسیساتو شاوخوا وداني تر اوسه روغې پاتې دي، دا ښیي چې بریدونه دقیق او د درملنې هڅ مرکز په نښه شوی نه دی.
۸. د تېر په څېر بې بنسټه تورونه (د افغان طالبانو رژیم او د هغوی د هندي ملاتړو له خوا) د ناسمو مالوماتو کمپاین کولو سره خپاره شوي، تر څو د پاکستان پر ضد د ترهګریزو مرکزونو شتون پټ کړي.
۹. دا حقیقت دی چې افغانستان د سیمې او نړیوالو ترهګرو ډلو لکه د پاکستاني طالبانو تحریک او د بلوچستان د ازادۍ غورځنګ او نورو لپاره خوندي پټنځای دی، او دا هر څه د افغان طالبانو د رژیم تر څار، ملاتړ او سرپرستۍ لاندې کېږي، کوم چې د سیمې هېوادونو او نړیوالې ټولنې له خوا په پراخه کچه تایید شوې.
۱۰. پاکستان د خبرو اترو او تعامل لار پرانېستې ده، خو په دې شرط چې نړیوالې ټولنې ته د افغان طالبانو د رژیم د ژمنو سره سم عملي او د تایید وړ اقداماتو ته لاره هواره کړي.
۱۱. د راتلونکي کوچني اختر (عیدالفطر) په مناسبت، پاکستان په خپل ابتکار او همدارنګه د ورونو اسلامي هېوادونو لکه سعودي عربستان، قطر او ترکیې په غوښتنه، پرېکړه وکړه چې په افغانستان کې د ترهګرو او د هغوي د ملاتړ زیربناوو پر وړاندې د «غضب للحق عملیات» د لنډ مهال لپاره ودروي.
۱۲. دا وقفه به د مارچ د ۱۹/۱۸ شپې له نیمې څخه تر د مارچ د ۲۴/۲۳ شپې تر نیمې پورې عملي کړل شي.
۱۳. د پاکستان دا اقدام د نیک نیت او اسلامي اصولو سره سم ترسره شوی دی. خو د پولې په اوږدو کې د هر ډول برید، د ډرون حملې یا ترهګریزې پېښې په صورت کې به «غضب للحق عملیات» سمدستي په لا زیات شدت سره بېرته پیل شي.
۱۴. پاکستان د ترهګرۍ پر وړاندې په خپله مبارزه کې ثابت قدم دی او د خپلو وګړو د ساتنې او د هغو کسانو د خوندي پټنځایونو د له منځه وړلو لپاره چې له پولې هاخوا بریدونه پلان او ترسره کوي، اړینو اقداماتو ته به دوام ورکړي.

۸ اپرېل ۲۰۲۶